# د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د يو ميل په اندازه واټن کې شي

له مقداد بن الأسود رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د يو ميل په اندازه واټن کې شي»، سليم بن عامر وايي: قسم په الله، زه نه پوهېږم چې له "ميل" څخه يې موخه څه ده؟ آيا د ځمکې واټن دی، که هغه سلايی دی چې سترګو کې پرې رانجه کېږي؟ فرمايي: «خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي: ځينې به تر پښو يعنې ښنګرو پورې وي، ځينې به تر ګونډو پورې، ځينې به تر کوناټو پورې وي او ځينې به داسې وي چې په خولو کې به ټول ډوب وي» راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس خولې ته اشاره وکړه.
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی له سرونو سره به د يو ميل په اندازه واټن کې شي. تابعي سليم بن عامر وايي: قسم په الله، زه نه پوهېږم چې له دوو ميلونو څخه يې کوم يو مراد دی؟ آيا د ځمکې واټن (يعنې يو ميل فاصله)، که هغه ميل (سلايي) چې سترګې پرې توربري؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي؛ ځينې به داسې وي چې خوله يې تر پښو (ښنګرو) پورې وي، ځينې به تر ګونډو، ځينې به تر کوناټو او ازار بند (بډو) پورې وي، او ځينې به داسې وي چې خوله يې تر خولې پورې رسېږي او د خبرو کولو مانع به يې ګرځي. راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس خپلې خولې ته اشاره وکړه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4289